# دپرویز شیخ په ناولونو کښې حقیقت نګاري

# Realism in the Pashto Novels of Pervez Sheikh

Musharraf Khan*

Abstract:

Pashto novels initiated in 20th century have been evolved in 21st century gradually with rapid increase in number. These novels encircle a wide range of cultural and religious dynamics prevailed in Pashtuns' society. The topics of these novels are mostly composed of social evils, poverty, deprivation, unemployment, class struggle and based on romanticism, sexism, socialism, communism, capitalism, anti-colonialism, classism, modernism and realism.

Pervez Sheikh has been considered as multi-novice writer of Pashto novels compiling 25 novels from a novel "*Tauda Bakara*" to a novel "*Silver Jubilee*" up to this time. The last novel published is *"Silver Jubilee*" published in April 2021.

There are many aspects of his novels as one of them is representation of elite class of Pashto society. Realism has been a literary movement in Europe after romanticism when things were analyzed on real depiction of the society. Pervez Sheikh has always been found a realistic novelist as each of his novel portrays a picture of real ground happenings in Pashtuns' society.

**Key Words:** Realism, Structuralism, Norms, Values, Traditions

د پښتو فکشن ابتدا په شلمه پېړۍ کښې شوې ده- پښتو فکشن کښې ناول ته په شلمه پېړۍ کښې ليکوالانو توجه اوکړه چې په ارتقائي حواله په یوېشتمه پېړۍ کښې عروج ته اورسېدو- پښتو فکشن کښې په یویشتمه پېړۍ کښې ډېر په سرعت سره اضافه اوشوه. په فکشن کښې ناول ته ډېر ارزښت حاصل دے ځکه چې په ناول کښې د ژوند د هر اړخ عکاسي ډېره په اسانه کېږي. پښتو فکشن کښې د ناولونو شمېره د دريو سوو نه اوړېدلې ده. دپښتو ناول تشکيل ابتدا په شلمې پېړۍ کښې شوې ده خو په دې ناولونو

*PhD Scholar Pashto Academy University Of Peshawar

کښې نیم نه زیات په یو ښتمې پېړۍ کښې تشکیل شوي دي. په یو ښتمې پېړۍ کښې د حالاتو او واقعاتو سره سم د پښتو ناول په موضوعاتو کښې هم خواره بدلون په نظر راځي.

حقیقیت نګاري هغه لیک وي چې د یوې ټولنې د تهذیبي، کلتوري، مذهبي، اقتصادي او فطري کړو وړو سره سم وي- د پښتنو ټولنه په شروع کښې یوه قبائلي تولنه وه چې زیات اقدار او اوصاف ئې فطرت ته نزدې وو مګر د وخت تېرېدو سره سم په دې بدلون روان دے چې اوس د ښاردي ژوند سره سم د دوئي په ژوند ژواک کښې فرق په نظر راځي- په افاقي حواله د هر قوم خپل تشکیلي ساختیات وي چې د هغوي په رڼا کښې اولسونه ژوند تېروي- د پښتنو د ژوند ساختیاتي تشکیلات د فولک نه واخله تر دې جدید دور پورې مختلف اړخونه لري- کوم څه چې پښتنو په نظر کښې په حقیقیت اډانه دے او یا حقیقت ته نزدې دي، هغه پرویز شېخ په خپلو ناولونو کښې ښکاره کړي دي چې یوه جائزه ئې په دې تحقیقي مقالې کښې وړاندې کېږي-

پرویز شېخ د پښتو ناول په کثیر نویس یا بسیار نویس لیکوالانو کښې ګڼلے شي. پښتو فکشن کښې د ټولو نه زیات ناولونه د پرویز شېخ دي چې تعداد ئې پنځویشت دے او اخري ناول ئې تر دې مهال سلور جوبلي دے چې هم دې نوم سلور جوبلي سره منسوب کړے دے. د پرویز شېخ ړومبے ناول "توده بکره" په کال ۱۹۸۸ عیسوي کښې چاپ شوے وۀ او اخري ناول "سلور جوبلي" په کال ۲۰۲۱ عیسوي کښې چاپ شوے دے. د ناول نګار پوره ادبي ژوند ۳۳ کالونو محیط دے او ټول پنځویشت ناولونه ئې لیکلي دي. ناول نګار اوس هم بقید حیات دے او لا د نورو ناولونو لیکلو طمع ترېنه کېږي- د ناولونو نه علاوه دناول نګار دوه نور کتابونه "اے پوئیټک ډسپیوټشن" او یوه ډرامه "لوبه د پېسې ده" هم شامل دي.

د پرویز شېخ په حقله سلیم راز لیکي چې هغه د ناول په هنر پوهېږي او د پښتنو ټولنې ژوره مشاهده لري- سلیم راز د پرویز شېخ په حقله وړاندې لیکي!

"خو دومره وئیلے شم چې د قیصې وئیلو لیکلو چل (Art)ورځي د خبرو (Dialogue) مېړنے دے او د پلاټ (Plot) په جوړښت پو هېږي. په تېره تېره منظر نګاري ئې د کمال ده او د کردارونو د نفسیاتو او حرکاتو نه ښه خبر دے چې زما په خیال د یو ښه تخلیق خصوصاً فکشن په بنیادي خصوصیاتو کښې لازمي ګڼلے شي"[1]

پښتو ادبي ليکوالانو کښې اکثريت د پروېز شېخ ناولونو سره اشنا دي او د هغه په فن ښېل ښېل نظرونه لري- د هغه ناولونو د پښتو ټولنې هر اړخ احاطه کوي البته د موضوعاتو په حقله دا عام تاثر دے چې هغه د يوې خاص لوړې طبقې عکاسي کوي مګر دا هم حقيقت دے چې د کومې لوړې طبقې هغه عکاسي کوي، هغې طبقې سره د پښتنو ژوند تړلے دے-

پروېز شېخ پښتو ادب ته پنځوېشت ناولونه بخښلي دي- د هغه د ناولونو تفصيل د نومونو او چاپ کال په حساب په لاندې ډول دے-

۱) توده بکره ۱۹۸۸
۲) کوټه پېسه ۲۰۱۱
۳) روپۍ د روح پۍ ۲۰۱۱
۴) د برګودر غاړه ۲۰۱۱
۵) صوبه دار غلاف خان ۲۰۱۲
۶) ګنګخړي ۲۰۱۲
۷) ميېرتون ۲۰۱۲
۸) دنيا د مينې کور ۲۰۱۳
۹) سلمان ليونے ۲۰۱۳
۱۰) ګړګوزې ۲۰۱۳
۱۱) منزل ته مزلونه ۲۰۱۴
۱۲) نيمګړي ارمانونه ۲۰۱۴
۱۳) مېلمنه ۲۰۱۴
۱۴) ورکې لارې ۲۰۱۵
۱۵) ملغلره ۲۰۱۵
۱۶) بې وزله مسافر ۲۰۱۶
۱۷) شپونکے ۲۰۱۶
۱۸) د سبا سترګه ۲۰۱۷
۱۹) اخري ملاقات ۲۰۱۸
۲۰) شېر دل پټهان ۲۰۱۸

۲۱) د تقدیر کرښې ۲۰۱۹
۲۲) تلاش ۲۰۱۹
۲۳) احساس ۲۰۲۰
۲۴) ناتار ۲۰۲۰
۲۵) سلور جوبلي ۲۰۲۱

په دې ناولونو کښې پروېز شېخ د پښتنو ټولنې هغه اړخونه په ښکاره کړي دي کوم چې په تهذیبي، کلتوري، سیمه ایز او مذهبي حوالو د پښتنو په اقدارو او اوصافو کښې شامل دي۔ ناول نګار چې د پښتنو کوم اقدار او اوصاف خپل ګڼي په هغوي کښې میلمه پالنه، مینه، ورورولي، حجره، خان، ملک، ناظر، د ښځو سره ښه سلوک او د خان او ناظر په مېنځ کښې تعلقاتو کشمکش په نظر راځي۔ په زیاترو ناولونو د خان او ناظر د خاندانونو په مېنځ تعلقات د رشتو شکل خپل کړي۔ د ناول نګار په ناولونو کښې د خان طبقه لوړه ګڼلې کېږي او ځکه ناول نګار په حقله دا رائے قائمه شوې ده چې هغه د لوړې طبقې یو نمائنده ناول نګار دے چې د لوړې طبقې ترجماني او عکاسي کوي۔

پروېز شېخ د پښتنو پرمختګ غواړي او د دې دپاره د پښتنو په ټولنه کښې بدلون غواړي۔ د پښتنو کلتور کښې د ښځو دپاره د لوړو زدکړو دپاره قلم پورته کوي او په هر ناول کښې د ښځو د زدکړو پرچار جاري ساتي۔ په لوستونکو دا خبره مني چې د لوړو زدکړو سره د یوې جېنۍ ژوند ښه کېږي۔

پروېز شېخ هم د پښتو د نورو ناول نګارانو په څېر په خپلو ناولونو کښې د پښتني کلتور نمائندګي کړې ده۔ هغه په خپل قام، وطن او خاوره ډېر مئین دے او د دې اولس اصل او حقیقي شکل نړۍ ته پېش کول غواړي۔ د پروېز شېخ اکثر ناولونه حقیقت ته نزدې دي مګر کله کله ترېنه لوئې شخړې پاتې شي او په ضمني شخړو کښې ښکېل پاتې شي مګر د دې کمزوریو باوجود هغه د پښتو ادب یو نمائنده ناول نګار دے۔

## حقیقت نګاري او پروېز شېخ

ډاکټر نګاه حسېن نګاه د پروېز شېخ په ناولونو یو تحقیقي کتاب لیکلے دے او پروېز شېخ ته د پښتو ناول بابا لقب ورکوي۔ اګرچې د هغه دې لقب سره متفق کېدل ضروري نه دي خو

ډاکټر نګاه د هغه د ناولونو پوره جاج اخیستے دے او د هغه اکثر ناولونه ئې لوستي دي۔
ډاکټر نګاه حسېن نګاه د پروېز شېخ په حقله لیکي!

"دغه رنګ د پروېز شېخ صېب په بعضې ناولونو کښې فلسفه حیات مشترک ده یعنې کوټه پېسه ، صوبېدار غلاف خان ، منزل ته مزلونه ، مېلمنه ، دنیا د مینې کور ، نیمګړي ارمانونه ، ورکې لارې او د سبا سترګه ، اګر چې په ذکر شوو ناولونو کښې ناول نګار ګڼ مقصدونه او مدعاګانې اخذ کړي دي خو بنیادي مقصد او مدعا ئې د دې ناولونو نه هغه اثرات په ګوته کول مقصد او مدعا ده کوم . د ۹/۱۱ نه پس زمونږ په زمکه او زمونږ په خاوره مرتب شوي دي "[2]

ډاکټر نګاه حسېن نګاره زیاتوي چې د دې قسمه اثراتو بیانولو کښې ناول نګار په ډېرو ځایونو کښې حقیقیت ته رسېدلے دے او هغه څه ئې د ناول په ژبه لوستونکو ته بیان کړي دي چې ډېرو کمو خلقو ته د دغه معلوماتو حقیقت معلوم وو- په دې تناظر کښې ناول نګار د تعریف او داد وړ دے-

ډاکټر نګاه حسېن نګاه زیاتوي چې یاد ناول نګار لوستونکیو ته په ډېر چل او په هنر داسې قسمه خبرې به ګوته کوي چې سم او شریف خلق څنګه د دهشت ګردو په لاس ورځي او بیا د هغې له پاره کارونه کوي . ښاپیرۍ د کامران کمانډر سره واده کړې وي- د دې بل خاوند هم وي خو هغه ئې پرېښے وي- دا کمانډر هم جعلي وي ، کامران ته د دې هرڅه پته وي ، یوه ورځ کامران لګي شي هغه کمانډر اولي په ښاپېرۍ هم ډزې اوکړي خو هغه ترې بچ شي- دغلته چې څومره طالبان وي هغه ټول مړه کړي ټول نبټ ورک ورله ختم کړي. د ناول په دې واقعه کښې هم عوامو ته دا اګاهي ورکړې شوې ده چې ضروري نه ده چې طالب ئې نوم وي نو هغه به صحیح وي- نه په دې جامه کښې د ۱۱/۹ نه روستو رنګ رنګ خلق رانټوتي دي او خپل خپل مقاصد حاصلوي-

د پروېز شېخ اصل مقصد دا دے چې پښتنانه په دې پوهه شي چې د هغوي ژوند په څه ښه کېدے شي- څوک چې په کوم نوم راځي او خپل مقاصد پوره کوي نو دوئي ته په کار ده چې د هغوي په شناخت کښې دې غلطي نه کوي- اصل کښې دا هغه پوهه ده چې ناول نګار ئې د خپلو ناولونو په ذریعه په اولس کښې خوروي او لوستونکي ته د غور او فکر

موقع ورکوي چې هر چا ته د شک په نظر کتل ښه نتیجه ورکوي- ډاکټر نګاه حسن نګاه د پرویز شېخ د یو بل ناول په حقله داسې لیکي!

"روپۍ د روح پې ‘‘ ناول زمونږ د معاشرې د ښو او بدو مجموعه ده ، په دې ناول کښې د معاشرې ښو او بدو دواړو ته ګوته نیولې شوې ده ، دا ګوته نیول د هر شاعر او ادیب ذمه واري وي ځکه چې شاعر ادیب ته د قام سترګې وائي ، د ناول قیصې او واقعاتو نه دا خبره څرګندېږي چې ناول نګار د خپلې معاشرې ډېره وسیع مطالعه او مشاهده لري، د کلود جرګو او دغه رنګ د دې جرګو د مشرانو په ناول کښې ډېر په ښکلي انداز عکاسي شوې ده□"[3]

جرګه د پښتنو یوه داسې اداره ده چې د انتظامي وخت نه وړاندې به د دې جرګو په وساطت د اولس په مینځ کښې د شخړو تصفیې کېدې- کوم وخت کښې چې پښتانه په قبائلي ژوند کښې پراته وو نو هغه وخت جرګه د شخړو حل کولو دپاره یو اځېنۍ لاره وه- یاد ناول نګار هم جرګه د پښتون اولس یو مشترکه اداره ګڼي او د دې لارې د شخړو حل حقیقت ګڼي- اګرچې اوس د جرګو په اصل شکل سوالونه راپورته شوي دي مګر د دې افادیت نه انکار ممکن نه دے ځکه چې عدالتي نظام کښې هم ډېر سقم په نظر راځي-

## حقیقت نګاري او پښتو کلتور:

د پښتنو کلتور څه داسې ځانګړنې دي چې د نړۍ په نورو کلتورونو کښې ډېرې کمې په نظر راځي- په دې کښې د ښځو پرده کول هم شامل دي- اګرچې د پردې په حقله وئیلے شي چې دا پښتو ټولنې ته د عربو نه راغلې ده مګر اوس د پښتنو ټولنې برخه ده- په یوېشمې پېړۍ کښې د ښځو پرده کولو کښې بدلون په نظر راځي ځکه چې دا څیزونه د وخت تېرېدو سره له کلتوري مائعیت له امله بدلېږي- ناول نګار پرده د پښتنو ټولنې برخه ګڼي او د پښتو ټولنې یو حقیقي شکل ګڼي مګر په راتلونکي وخت کښې د پردې په حقله باور نه لري-

"هما : یو دا چې خپلې پښتو او شرم و حیا اجازت نه راکولو چې د نامحرم نه ستر مات کړم . دویم دا چې ستا معلومات کول ضروري وو .کوم * .دریم دا چې د نیا ، نیکه د عزت په وجه . څلورم دا چې ماځان سره

وئيلي وو چې زه به د هغه چانه ستر ماتوم چاسره چې زه واده کول غواړم.)[4]

پښتنو په ټولنه کښې د سوشل مېډيا راتلو سره د هلک او جينۍ ليدل کتل اسان شوي دي- د دې نه وړاندې به اکثر د هلک او جېنۍ ليدل کتل د واده نه پس کېدو- جېنۍ او هلک به د دواړو خاندانونو خوښول- پروېز شېخ د هغه دور خبره کوي کوم وخت چې ليدل کتل مشکل وو- ناول نګاري دا ګڼي چې دا رسم د پښتو ټولنې خپل وۀ او دې ته د حقيقت درجه حاصله وه-
د پښتنو کلتوري اقدار او اوصاف ځانګړي دي او په نړۍ کښې ځينې داسې واقعات مخې ته راځي چې د پښتو کلتور سره اختلاف لري- د پښتنو په ټولنه کښې د هلکانو اوجينکو ترمېنځ د شرم او حيا څه داسې قدرونه دي چې دواړه مخالف جنسونه څه فاصله ضرور ساتي- دا اصل کښې پاک بازي او راست بازي ده چې دې سره يوه ټولنه څه حدود لري او دا اصول د اوصافو او اقدارو شکلونه حاصل کړي- په دې کښې د خبرو اترو څه پابنده نه شته مګر د لمس کولو نه صرف نظر کېږي چې دې سره د پښتنو په ټولنه کښې کلتوري حدونونو نه څوک وړاندې قدم نه اخلي- په يوېشتمه پېړۍ کښې ځينې داسې نظرونه هم وړاندې کړې شوي دي چې په کلتورونو کښې ځينې قدغنونه د ژوند په ازادۍ کښې خنډونه دي مګر دا دې هم ياده وي چې زياته ازادي هم بې لارې کېدل دي- پروېز شېخ چې کله د پښتنو کلتور د نړۍ د نورو کلتورونو سره موازنه کوي نو هغه د پښتنو کلتور ښه ګڼي- په يو ناول کښې د يورپ يو منظر داسې وړاندې کوي-

"په يورپ کښې د هلک او جينۍ يو بل ته ورترغاړه وتل د هغه ځاے د کلتور مطابق څه معيوبه خبره نه ده او د خاور علي کورنۍ د يورپ په دود دستور او رسم و رواج کښې ښه پوره رنګ شوې وه"[5]

د پښتنو په سيمه د رسمونو او رواجونو لمانځلو خپلې موقعې وي- په دې موقعو چې کوم رواجونه، رسمونه او دودونه وي، هغه کارولے شي- د سر نه پټکے کوزول د بل په څولۍ او يا د بل پښو کښې کېښودل هم د پښتو يو رسم دے چې مطلب ترېنه عاجزانه خواست کول او څه غوښتنه وي- پروېز شېخ هم په

یو ناول کښې یوې داسې واقعې بیان راوړي چې کله د یوې جینۍ غوښتنه کېږي او د جینۍ پلار یا نیکه نه راضي کېږي نو د بل خاندان مشر د هغه څولۍ ته خپل پټکے وروغورځوي- دې سره د هغه مشر په زړه کښې رحم راشي او خبره جوړه شي-

"مشره بي بي: په چل ول نه ، زما پلار هله راضي شو چې خان بابا د خپل سر نه پټکے کوز کړو او د هغوي پښو کښې ئې کېښودو."[6]

پرویزشېخ هغه څه حقیقت ګڼي کوم چې په ټولنه کښې رواج لري- د پښتنو ټولنې کلتوري اقدار او اوصاف د یو تشکیلي ساخت په شکل کښې شتون لري او پښتانه په ټول نړۍ کښې د دې اقدارو او اوصافو پالنه کوي- په دې کلتوري تشکیل یو کس پښتون ګڼلے شي کوم څوک چې دا رواجونه دوامداره ساتي- د فطري څېزونو نه پرته د نړۍ د قومونو خپل ساختیاتي تشکیلات دي چې هر قوم خپلو تشکیلاتو ته د حقیقت په نظر ګوري- په دې تشکیلاتو کښې څه څیزونه اشتراکات لري مګر ځینې څیزونه د یو بل اپوټه وي- په کلتوري څیزونو کښې کوم څه چې د پښتنو په ټولنه کښې حقیقت دے هغه په بله ټولنه کښې حقیقت نه لرے وي- په مذهبي شعائرو کښې د مسلمانانو او د نړۍ د نورو مذهبونو په مینځ کښې ډېر څه بدل شکلونه لري-

## حقیقت نګاري او پښتو وطن:

د وطن سره مینه د هر لیکوال په فطرت کښې شامله وي- پرویز شېخ هم د خپل وطن سره زیاته مینه لري او خپل وطن ښاد او اباد لیدل غواړي- په خپلو ناولونو کښې د وطن ښکلاګانو او فطري نظارو ستائنه کوي- په خپله سیمه کښې د بدو پېښو غندنه کوي او د ذمه وارو حلقو نشاندهي هم کوي چې که چېرې په وطن کښې امن راوستل وي نو دا دوه طبقې دې خپلې ذمه وارۍ ترسره کړي چې بې وزله اولس ښه ژوند اوکړي- دا یو حقیقت دے چې په تېرو څلورو لسیزو کښې په پښتنه خاوره لوے ناورین تېر شو- په دې حالاتو کښې مالي او ځاني مرګ ژوبله پښتنو ته واوړېده- ناول نګار د دې ناورین خاتمې دپاره قلم پورته کوي او د دې خاورې نه د بدو پېښو خاتمه غواړي-

"دا اوس هغه سوات نه دے پاتے چې د خوشګواره فضا ، د فطرتي ښکلا او د امنیت د خبر صلا په وجه به ورته ملکي او غیر ملکي سیلانیانو د

پاکستان سوېزرلهند وهلے . اوس دے نه تود تنور جوړ شوے دے چې د بارودو لمبې ترېنه خېژي او انسان پکښې سوزي ابره کېږي . يوخوا طالبان دي ، بل خوا فوجيان دي او د دوي په مينځ کښې بې وزله عوام دي . عوام مري ، عوام ژوبلېږي ، د عوامو کورونه ورانېږي ، فصلونه يې تباه کېږي ، او څاروي يې هلاکېږي دلته هېڅوك نشي ايسارهدے، هر سړے په تېښته دے."[7]

دا يو حقيقت دے چې په دې سيمې د بد امنۍ يوه اوږده نه ختمېدونکې لړۍ روانه ده تېرېږي- په داسې حال کښې چې يو ليکوال دا هر څه مشاهده کوي نو ضرور يو تاثر ترېنه اخلي او خپل مشاهدات د قلم د لارې لوستونکو ته وړاندې کوي- پروېز شېخ د يو زيرک ليکوال په توګه د دې سيمې حالات د ناول د لارې لوستونکو ته وړاندې کوي او د ښه راتلونکې دپاره په اولس کښې پوهه خوروي- اولس ته د امن او ښه ژوند لارې ښائي او د علم په برکت د دې تيارو خاتمه غواړي-

## حقيقت نګاري او حسن

د حسن په حقله په نړېوالو ادبياتو کښې بشپړ ليکونه شوي دي- په فلسفه کښې داسې موضوعاتو کښې اېپوريا وئيلے شي- دا يوه لاينحل شخړه ده چې په دې هر څومره ليکونه اوشي مګر د دې تشريح  کوم مطلق بيان امکان نه لري- پروېز شېخ حسن ته په خپل نظر ګوري- مګر دا يو حقيقت ګڼي چې حسن د ماديت او روحانيت يوه منبع ده چې د دې نه انکار نه شي کېدے-

"وئيلے کېږي چې حسن خاموشه دهوکه ده په چپه خوله هغه کارونه کوي چې لوے لوے بريالي بريالي ئې هم نشي کولے د دنيا لوے پوهان د حسن د سحر کارۍ معترف دي او شايد دغه وجه وه چې په ډيپارټمنټ کښې هر ځاے او په هره ډله کښې د هغې د ښائست صفتونه کېدل په هلکانو کښې ځينې پتنګان داسې وو چې په خپلو جذباتوئې قابو او نه موندو او د خطونو په ذريعه ئې هغې ته د خپلې مينې اظهار هم اوکړو او

د واده پېشکشونه هم ورته اوشو خو هغې دغه ټول خطونه او پېشکشونه
د هغوي نه پټ اوساتل." [8]

د پرویز شېخ دا فلسفیانه تجزیه ښکاره کوي چې حسن یو داسې وصف دے چې د نړۍ هر شخص د دې نه ضرور تاثر اخلي او د دې په معترف کېږي. مادي حسن صرف د انسان نه وي بلکې دا د نړۍ په هر رنګ کښې ښکاره وي. دا د نظر دهوکه نه ده بلکې دې سره د انسان احساسات او جذبات تړلي وي چې د دې اظهار هم کېږي.

## حقیقت نګاري او پښتون مزاج:

پرویز شېخ د پښتنو یو خاص مزاج رویې وړاندې کوي چې یوه فلسفیانه جائزه ده. هغه پښتانه ژوندے، حساس، جذباتي او رحم کونکے قوم ګڼي. دا هر څه ناول نګار د پښتنو په حواله حقیقیت ګڼي. د تربورولي او ضد ماده په دې خلقو کښې د ماحول اثر دے چې قبائلي ژوند دې ته مجبور کړي دي چې په لږ څه شخړې جوړې شي او بیا په لسېزو دوام لري.

"پښتون یو ژوندے، حساس، جذباتي او زړۀ سواندے قوم دے
ژوندے په دې چې د ژوند په هره مرحله کښې خپل عزیز تربور سره سیالي
کوي حساس په دې چې په لږه خبره خفه کېږي او په لږه خوشحالېږي
جذباتي په دې چې د خپلې پښتو تر سره کولو دپاره د خپل انجام پروا نه
لري زړۀ سواندے په دې چې پردے غم خپل غم ګڼي او د هاغه چا په غم
خفه کېږي چې د هغۀ غم د هغه د توان نه زیات وي." [9]

دراصل د پښتنو نفسیات پېژندل زیاته مطالعه غواړي چې پښتانه څومره نرم خو او څومره سخت ګېر دي. پرویز شېخ په خپلو ناولونو کښې چې د پښتنو په حقله کوم څه ته حقیقت وائي هغه د حساسیت او جذباتیت عنصر حاوي ګڼي. په هره ټولنه کښې چې تشدد روان وي نو هلته د صبر ماده کمه شي. مګر پښتنو کښې هم دا عناصر اضافي شکلونه لري. اضافیت یو داسې اصطلاح ده چې د یو کس فکر د بل نه جدا کېدے شي یعني یو کس که یو څیز ته حقیقیت وائي نو بل کس بل څیز ته حقیقت وائي. د مثال په توګه که یو محقق د پښتنو سخت دریزي د جنګونه نتیجه ښائي نو بل محقق د قبائلي نظام نتیجه ښائي. پرویز شېخ د

پښتنو تربورولي يو حقيقت ګڼي او غواړي چې دا عمل ختم شي او پښتانه پرمختګ اوکړي-

## د امن پر چار:

د پښتنو په وطن د تېرو څلورو پنځو لسيزو نه د اړې ګړې ماحول راروان دے او د دې بد حالۍ په ضد په شعر او نثر کښې خواره ليکونه شوي دي- پرويز شيخ هم دا يو حقيقت ګڼي چې د دې جنګونو له امله د پښتنو په مجموعي ژوند ډېرې بدې اغېزې شوي دي- هغه وائي چې د دې جنګونو خاتمه دې اوشي چې اولسونه ښه ژوند اوکړي- د ناول نګار په اکثرو ناولونو کښې د امن خبره کېږي او لوستونکو ته د ښه ژوند تېرولو هنر ښائي- د ښه اقتصاد طريقې ورته په ګوته کوي او د جنګ نه ئې متنفر کوي- هغه په يو ناول کښې دد جنګ خلاف داسې ليک کوي!

"دا خلق جنګ جګړې ولې کوي؟ دا لږ عمر په خندا خوشحالۍ ولې نه
تيروي او که يو زياتے اوکړي نو بل دې غلے شي، صبر دې اوکړي۔۔۔
خو ځنې خلق زياتي باندې زياتے کوي۔"[10]

پرويز شيخ د پښتنو ټولنې د نزدې نه مشاهده کړې ده- په ټولنه کښې جنګ جګړې شتون لري او ناول نګار غواړي چې دا په صبر او تحمل سره ختم کېدے شي- که خلق لږ د صبر نه کار اخلي او لږ زغم اوکړي نو د جنګ نوبت به نه راځي- د جنګ جګړو خاتمې سره به د پښتنو په ژوند کښې مثبت بدلون راشي-

## حقيقت نګاري او د ښځو حقونه

د ښځو په حقله د ناول نګار فکر ډېر روڼ او روښانه دے- د ټولنې جوړښت کښې د ښځو کردار مسلم دے- ناول نګار د ميرمنو نه بغير د ټولنې تصور نه شي کولے- ناول نګار د ښځو حقونو په حقله دومره زوروره بيانيه وړاندې کوي چې ښځه د ناول هيرو په ځاے هيروئن ټاکي- ناول نګار غواړي چې په جائيداد کښې دې د لور، خور او ښځې برخه زياته وي- هغه تر دې حده پورې د ښځې په حق دے چې د يوې جينۍ، ښځې، بي بي، مېرمنې او کډې په يوه خبره د لانجو خاتمه کېږي- د ښځو په خبرو هغه ته سکون رسي او د ښځو ښه تصوير پېش کول د هغه د ناولونو مرام دے-هغه پښتنې ښځې په لويو چوکيو لېدل غواړي-

ناول نګار غواړي چې پښتنې ښځې په لويو حويليو ، بنګلو ، باغيچو او باغونو کښې ژوند اوکړي- هغه غواړي چې ښځو ته دې هره هغه ازادي حاصله وي کومه چې په نړۍ کښې نورو ښځو ته حاصله ده-

"صباء د ښځې مثال د ملغلرې دے چې بې داغه وي نو بې بها وي چې داغداره شي نو کهوټ بنګار شي. د وخت ، حالاتو ، زمانې او حادثاتو ښکار شي چې څه شوي دي هغه اوشو اوس به د دې کمرې نه تر هغې پورې بهر نه اوځې ترڅو چې ما اجازت نه وي درکړې."[11]

ناول نګار د ښځو په صفتونو او تعريفونو کښې طويل بحثونه راوړي چې د تانيثيت علمبردارانو سره يو شان يون کوي- د ښځو کردار په ټولنه کښې افاقي ګڼي او د سړي نه ئې کم نه ګڼي- هغه د پښتنو ښځو صفتونه داسې کوي چې د نړۍ د ښځو نه ئې ښه او مثبت انداز کښې پېش کوي- د فيمينزم چې کوم تحريک په نړۍ کښې شروع دے، پرويز شېخ د دې تحريک پوره طرفداره په نظر راځي- ناول نګار پښتنو ټولنه کښې د ښځو سره د زور او ظلم په سختو ټکو کښې غندنه کوي او دهر قسم ظلم او جبر خلاف قلم پوره کوي او د ښځو د حقونو خبره کوي-

## حقيقت نګاري او موسيقي

د نړۍ په علمونو کښې موسيقۍ ته د حقيقيت درجه حاصله ده- د نړۍ په علمونو کښې حقيقي تخليقات په موسيقۍ کښې امکانات لري- په پښتو ناولونو کښې د موسيقۍ په حقله ليکونه شوي دي خو پرويز شېخ په اکثرو نالونو کښې د موسيقۍ سره د مينې اظهار کړے دے-

"وئيلے کېږي چې موسيقي د روح غذا ده خو دا معلومه نه ده چې دا خبره ترکومه حده پورې رشتيا ده ځکه چې د ځينې عالمانو په نزد روح يو غير مادي څيز دے او هغه ته د غذا ضرورت نه وي- د موسيقۍ تعلق انساني روح سره نه بلکې انساني حس او انساني بدن سره دے البته د موسيقۍ په طلسماتي اثر او محرکاتو دواړه ډلې متفق دي- د

موسیقۍ چې د مختلفو راګونو په ذریعه په سامع کښې مختلف تاثرات او جذبات پیدا کوي لکه جذبه عشق و محبت ، جذبة حب الوطني ، جذبه جهاد ، جذبه قومیت ، جذبه ایمان ، جذبه خوف و هراس جذبه غم او جذبه همدردي وغیره ." [12]

پرویز شېخ موسیقۍ د اورېدو حس سره تړي چې یو سائنسي عمل دے مګر د اورېدلو حس هم د مازغو په یوه خانه کښې شتون لري چې د اوازونو پېژندګلو کوي- په شور کښې چېچې بې ربط وي مګر په موسیقۍ کښې چېچې اهنګ لري چې مازغو ته تفریح ورکوي- ناول نګار انساني حس او بدن سره د موسیقۍ تعلق ښائي چې روح د حس نه بغیر څه کېدے شي- حس او روح دواړه غیر مادي عناصر دي چې د مازغو سره ئې تعلق دے-

## حقیقت نګاري او اساطیرات

اساطیر هغه څه دي چې د دې په حقله وئیلے شي چې اساطیر محض اساطیر دي او دې ته د مذهب یا سائنس په نظر کتل هیڅ معني نه ورکوي- د اساطیراتو کوم تجربه نه کېږي او څکه د اساطیراتو په حقل په پښتو ټولنه کښې د دې سره تړلو خلقو کاروبار روان دے او د اولس د روح، صحت او اقتصاد سره لوبې کوي- پرویز شېخ د دې اساطیراتو سخت مخالف دے او په اکثرو ناولونو کښې د دې خلاف لیکونه کوي او په اولس کښې پوهه خوروي- په نالونو کښې د پیریانو بابا په حقله خبره کوي چې په مختلفو طریقو خلقو ته د دروغو دلاسې او روحاني علاج ښائي چې د حقیقت سره ئې څه واسطه نه شته- ناول نګار د پیریانو بابا طریقه واردات او الات هم بیانوي چې د اولس ساده وګړي خطا کوي- کوم ساده خلق چې د ډاکټر د دارو او درملو وس نه لري نو هغه دې خلقو ته ورشي او ډېر په اسانه خطا شي- دراصل د اساطیراتو خلاف د ناول نګار لیکونه په اولس کښې پوهه خورول دي چې اولس نور خطا نه شي او د تعویذونو او ګنډو په ځاے د مرض اصل علاج ممکن شي- ناول نګار د اساطیراتو سره تړلي توهمات د پښتو په ټولنه کښې شتون لري او دا د دې ټولنې یو حقیقیت دے چې ناول نګار په ښه انداز کښې بیان کړے دے-

"د روغ جوړ نه پس هغه په کټ کښې په عزت کینولې شو او دري خلور بالختونه ورته دډو ته کیښودي شو دکیناستو سره هغه خیله غاړه غوته

پرانسته بو کتاب بي ترینه را اوویستلو او هغې ته کتل یوه شیبه پس یې مامدي ته اووې چې د تور جیلي کرمه وبنه یکارده دمامدي په وینا باندي جنت ګل دکور نه خیل نور چیلې راوستو هغه حلال کړې سو او د هغه ګرمه وینه هغه له راوړې شو . پیریانو بابا یو ډکې په وینه کښې غوپه کړو او په یو سمي د وینې یو څو کرښې راخکلي."[13]

اساطیرات څه مادي شکل نه لري بلکې د وهمونو ګنحلک فکرونه وي چې مریض ته ئې د خپلې کم علمۍ په وجه اندازه نه لګي- له دې امله ساده خلق د خپل نامعلوم مرض دپاره د جاهلانو سره مخامخ شي چې د علاج په ځاے د مریض حالات لا نور بد تر شي- ناول نګار غواړي چې پښتانه دې د دې عمل نه راوګرځي او د مرض اصل دارو درملو ته دې توجه اوکړي-

## حقیقت نګاري او پښتو رسمونه

"دا د پښتو دستور نه دے چې مور پاسي او د زوي نه معافي اوغواړي البته که زوم دغسې اوکړي نو د هغه د پاره دفخر خبره ده . زه مخکښې هم ستا زوے ووم او اوس هم ستا زوے یم . او ستا خدمت کول خپله خوش قسمتي ګڼم-"[14]

## حقیقت نګاري او پښتو متلونه

د پښتو متلونه پښتو ادب او ټولنه کښې ډېر ارزښت لري- ځینې متلونه د پښتنو رویو او اصولو ترجماني کوي او پښتانه په خبرو اترو کښي د تېرو تجربو نچوړ په متلونو کښې پېش کوي- کله چې یوه مسئله نه حل کېږي نو پښتانه د تېرو واقعاتو په تناظر کښې د دفعاتو په شکل کښې پېش کوي چې دې سره د مسئلې حل ممکن شي-

پرویز شېخ د پښتو متلونو سره اشنا دے او د پښتو ټولنې ژوره مشاهده لري- هغه د ناول په واقعاتو کښې د پښتو ځائي متلونه کاروي چې لوستونکي ترینه ډېر ښه تاثر اخلي- د پرویز شېخ په هر ناول کښې متلونه په نظر راځي او لوستونکي ډېر په اسانه پرې

پوهېږي- پرویز شېخ متلونه د پښتو حقیقي کلتوري دفعات ګڼي او په ټولنه کښې د دې ترویج غواړي- په یو ناول کښې د واقعاتو سره سم یو څو متلونه په لاندې ډول دي-

"د هغوي ذهنونونو او خیالونو کښې به دا راتله چې " غربېږي غربېږي نو اخر به اووربېږي " هسې نه چې دغه پاتې زمکه دغه هلك پسې انتقال کړي- د هغوي ترونو هم هغوي سره د همدردۍ ښه پوره اظهار اوکړو او ندیم خان خو په ډاګه اووې "چې مور میره شي نو پلار پلندرشي-"[15]

پښتو متلونه د تېرو تجربو او مشاهدو نتیجه وي چې اولس ترېنه استفاده کوي- پرویز شېخ چې کله یوه قیصه بیانوي نو چې په کوم ځاے کښې ورته د تېرو تجربو د څه نتیجې ضرورت پېښ شي نو بیا د یو متل په حواله هغه خبره صفا کوي چې دې سره یو لیک ډېر اثرناک شي او لوستونکي ډېر زر پوهه شي-

"د خاله په شخصیت کښې هغه دپاره دومره کشش راغلے وۀ چې هروخت به ئې ورته په پسخېدلي نظر کتل . هم دغه وجه وه چې دغه ټوقو ټقالو کښې ورته هغه څوڅو ځله د نکاح خواست اوکړو خو خاله د ډېر قوي اعصاب خاونده وه. هغې به په مسکا مسکا جواب ورکړو ، ړوند په موږي یوځل تیندك وهي ، "دوه ځله نه" خو د هغه په دغه خبرو او مثالونو څه پرواه نه وه ."[16]

متلونه د پښتو ژبې په شان د نړۍ په نورو ادبیاتو کښې هم شتون لري- د اردو ضرب الامثال او د انګلېسۍ پروورېز (Proverbs)یا ایډیمز (Idioms) د پښتو متلونو په شان دي- دې کښې ځینې د ژباړې په شکل کښې یو شان فهم ورکوي البته ځینې بېخي بدل فهم ورکوي چې د تقابلي جائزې نه ئې سمه اندازه لګېدے شي- پرویزشېخ د پښتو متلونه د پښتو ټولنې د مشاهداتو نتیجه ښائي او د شخړو حل دپاره ئې موثر ګڼي-

## حقیقت نګاري او مینه

مینه تجریدي عنصر دے او د دې کوم مادي شکل نه شته- د ادې ادراک په احساساتو او جذباتو کېږي- پرویز شېخ مینه یو غیر مادي عنصر ګڼي او وائي چې د مینې

د روحاني څیزونو سره تعلق نه شته- د پرویز شېخ خپل نظر د مینې په حواله د هغه د ناولونو د مکالمو نه اندازه لګي- په یو ناول کښې هغه مینې ته په لاندې ډول نظر کوي-

"شان :. پلوشې زه تا سره بې فنا مینه کوم خو د مینې د پاره واده شرط نه دے ، مینه هغه اور دے چې د دوو مئینو په زړونو کښې تل ترتله بلېږي . دا اور نه کمېږي ، نه زړېږي او نه ختمېږي بلکې وخت تېرېدو سره تازه کېږي او نور هم زیاتېږي . واده د مینې تکمیل دے . د جنسي لذت لالچ دے . . .او په مینه کښې د مطلب پرستۍ، خودغرضۍ او ذاتي لالـچ ګنجائش نشته . مینه بس مینه وي نور هیڅ نه."[17]

پرویز شېخ د مېنې په حقله وائي چې مینه دوه قسمه وي، د وجود وجود سره مینـه ، بله د روح روح سره ـ د وجود مینه د نکاح پـه تـرون بـانـدې تر سره شي خو د روح مینې تـه د دې ضرورت نه وي . د وجودي مینې ابتدا او انتها د وجود سره تړلې وي چې ترڅو پورې حسن وي، ځواني وي ددې مینې عروج وي چې حسن ، ځواني او رعنائي ختمېږي ، مینه هم کمېږي او اخر ختمه شي خو د روح مینه لازواله وې ـ هغه وړاندې لیکي!

"بعض وخت د څه مجبورۍ یا مصلحت په وجه د وجودونو تړون اوشي خو د روحونو نه وي شوي نو نتیجه ئې دا وي چې د اول نه تر اخره پورې هغـه تـړون نـاکـام وي او اخر ئې خپلو کښې بېلتون راشي."[18]

پرویز شېخ د پښتنو د ټولنې په مشاهداتو کښې په دې نتیجه رسي چې پښتو ټولنه کښې د هلک او جینۍ تپوس نه بغیر وادونه کول غیر حقیقي عمل دے چې د دې ډېرې بدې نتېجې مخې ته راځي- هغه دا ښکاره کوي چې د مادې او روح په مېنځ کښې ډېر فرق دے- د پرویز شېخ په نظر کښې د وادونو په لړ کښې روحاني تعلق ته زیات ارزښت حاصل دے- پرویز شېخ لیکي چې د مینـې واده زمـونـږ په شریعت کښې هم جائز دے او زمونږ په ائین او قانون کښې هم جائز دے . دې نه علاوه د دنیا د ټولو ملکونو په مذهبونو او قانون کښې هم جائز دے -

"بله دا چې صبا نه صرف بـالـغـه او هـوشـمـنـده وه بلکه تعلیم یافته هم وه او هغې ته د خپلې خوشحالۍ ، خوشحاله ژوند ، بنیادي انساني حقوق او د خپلې فېصلې په حقله حق

حاصل وۀ خو نورعالم او ګل عالم کاشان سره د صبا د واده مخالفت ځکه اوکړو چې کاشان د دوئي د ستېښدړې نه وۀ او د سزا په طور ئې هغه خپل نوکر نورخان ته واده کول غوښتل."[19]

ناول نګار د پښتو ټولنې د خان ، ملک، ناظر او نوکر په حقله خواره لیکونه کړي دي- هغه د خان او نوکر په معاملاتو پوره معلومات لري- په ځینې ناولونو کښې د نوکر د ځوي نه نفرت او د نوکر د لور سره د خان د زوي د رشتې په حقله لیکونه کوي- د هغه اکثر ناولونو کښې د خان او نوکر خاندانونو کښې یو کشمکش روان وي- ناول نګار د مینې یو مزې راکاړي خواه که د خان اولاد وي او که د نوکر وي خو یوه رشته جوړه شي چې په هغه قبصې ناول روان شي او تر اخره د خاندانونو ترمینځه معاملات روان وي- په دې معاملاتو کښې د مینې عنصر د رشتو جوړولو لاره ښائي چې د ناول نګار د وسعت نظر په ځاے په لنډ نظر دلالت کوي-

پرویز شېخ د پښتو ټولنې په هر اړخ نظر اچولے دي او په خپلو ناولونو کښې ئې د ټولنې ښه او بد په ګوته کړي دي- سواره د پښتو ټولنې یو ډېر زوړ او ناوړے عمل دے چې اوس هم په څه نا څه شکل کښې په لرې پرتو سیمو کښې رواج لري- سواره د یو ورور یا پلار په جرم کښې دښمن سره د روغې جوړې دپاره د کور جینۍ په نکاح کښې ورکول دي- دې عمل ته اوس هم ځینې خلق داسې ګوري چې دې سره د دوو خاندانونو تر مېنځه دښمنۍ په دوستۍ بدله شي مګر په شلمې پېړۍ کښې د لیک د لارې دا عمل وغندلے شو او په یوېشتمې پېړۍ کښې دا عمل په ختمېدو ښکاري- دا هله ممکن شو چې د دې خلاف اوازونه پورته شو- پرویز شېخ هم په خپلو نالونو کښې د دې رسم خلاف لیکونه کړي دي چې یو مثال ئې لاندې دے-

"دغه روغه جوړه کښې د صوبه دار میجر صبب د یو زوي دپاره د دوو سورو پیشکش هم اوشو خو هغه د سورونه انکار اوکړو او في سبیل الله یې دواړه او بخل-"[20]

د پرویز شېخ د پښتو فکشن د ناول یو ښېش نویس لیکوال دے چې تر دې دمه ئې پښتو فکشن ته پنځوېشت ناولونه بخښلي دي- دا ړومبے ناول نګار دے چې دومره زیات ناولونه ئې لیکلي دي- په دې ناولون کښې حقیقت نګاري د پښتو د ټولنې هغه

کړه وړه دي چې اوس هم رواج لري او ناول نګار پرې ليکونه کړي دي- په دې کښې د پښتنو د بدن خدوخال، سيمه، فطري ښکلاګانې، کلتوري رسمونه او رواجونه، کلتوري اوصاف او هغه څه کوم چې په حقيقي معنو کښې د پښتنو د ژوند ترجماني کوي، د هغه ټولو دودونو عکاسي کوي- کوم څيزونه چې پښتو ټولنه کښې رواج لري مګر ناول نګار د هغه څيزونو پښتو ټولنه کښې خاتمه غواړي، په هغو څيزونه تنقيدي نظر نه پس سخت ټکونه کوي چې داسې ناوړې مراسم دې د پښتو ټولنې نه خارج کړے شي-

**References:**


1. Tarakzai, Ayaz Ullah, Parvez sheikh Da fan ao shaksyat yawa tanqedi Jaeza, Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, February 2016, Page7,8
2. Nigah, Nigha Hussain Doctor, Da Puhto Jabi da Novel baba ( da navalono Tehkeki ao Tanqedi Jaaj) Aeraf Printers Mohallah Jangi Peshawar, May 2017, Page 277
3. Nigah, Nigha Hussain Doctor, Da Puhto Jabi da Novel baba ( da navalono Tehkeki ao Tanqedi Jaaj) Aeraf Printers Mohallah Jangi Peshawar, May 2017, Page 87
4. Sheikh Parvez, Melmana (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, November 2014, Page 135
5. Sheikh Parvez, Aheri Mulaqat (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, January 2018, Page 39
6. Sheikh Parvez, Melmana (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, November 2014, Page 42
7. Sheikh Parvez, Melmana (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, November 2014, Page 75
8. Sheikh Parvez, Talash (Novel) Abid printers Mohallah Jangi Peshawar, August 2019, Page 78
9. Sheikh Parvez, Melmana (Novel) Abid printers Mohallah Jangi Peshawar, August 2019, Page 18
10. Sheikh Parvez, Kotah Paisa (Novel) Zia Sons Printers Peshawar, 2011 Page 185
11. Sheikh Parvez, Manzal ta Mazaluna (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, January 2014, Page 56,57
12. Sheikh Parvez, Garkozi (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, May 2013, Page 187
13. Sheikh Parvez, Salman Lewani (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, February 2013, Page 77,78
14. Sheikh Parvez, Nemgari Armanuna (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, May 2014, Page 302
15. Sheikh Parvez, Salman Lewani (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, February 2013, Page 134

16. Sheikh Parvez, Nemgari Armanuna (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, May 2014, Page 153
17. Sheikh Parvez, Nemgari Armanuna (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, May 2014, Page 14
18. Sheikh Parvez, Rupay da Roh Pay (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, May 2011, Page 199
19. Sheikh Parvez, Manzal ta Mazaluna ( da puhtoNovel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, January 2014, Page 221
20. Sheikh Parvez, Sher Dil Pathan (Novel) Aeraf printers Mohallah Jangi Peshawar, April 2018, Page 153

[1]ترکزے، ایاز الله، پرویز شېخ د فن او شخصیت یوه تنقیدي جائزه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، فروري ۲۰۱۲، مخ ۷۸

[2] نګاه، نګاه حسېن، ډاکټر، د پښتو ژبې د ناول بابا (د ناولونو تحقیقي او تنقیدي جاج)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مئ ۲۰۱۷، مخ ۲۷۷

[3] نګاه، نګاه حسېن، ډاکټر، د پښتو ژبې د ناول بابا (د ناولونو تحقیقي او تنقیدي جاج)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مئ ۲۰۱۷، مخ ۸۷

[4] شېخ، پروېز، میلمنه (ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، نومبر ۲۰۱۴، ص ۱۳۵

[5] شېخ، پروېز، اخري ملاقات (ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جنوري ۲۰۱۸، مخ ۴۹

[6] شېخ، پروېز، میلمنه (ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، نومبر ۲۰۱۴، ص ۴۲

[7] شېخ، پروېز، میلمنه (ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، نومبر ۲۰۱۴، ص ۷۵

[8] شېخ، پروېز، تلاش (ناول)، عابد پرنټرز محله جنګي پېښور، اګست ۲۰۱۹، ص ۷۸

[9] شېخ، پروېز، تلاش (ناول)، عابد پرنټرز محله جنګي پېښور، اګست ۲۰۱۹، ص ۱۸

[10] شېخ، پروېز، کوته پېسه (ناول)، ضیا، سنز پرنټرز پشاور، ۲۰۱۱، ص ۱۸۵

[11] شېخ، پروېز، منزل ته مزلونه (د پښتو ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جنوري ۲۰۱۴، مخ ۵۲،۵۷

[12] شېخ پروېز، ګړګوزې ، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مئي ۲۰۱۳ء ،ص ۱۸۷

[13] شېخ، پروېز، سلمان لیونے (ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، فروري ۲۰۱۳، ص ۷۷.۷۸

[14] شېخ، پروېز، نیمګړي ارمانونه (ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مئ ۲۰۱۴، ص ۳۰۲

[15] شېخ، پروېز، سلمان لیونے (ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، فروري ۲۰۱۳، ص ۱۳۴

[16] شېخ، پروېز، نیمګړي ارمانونه (ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مئ ۲۰۱۴، ص ۱۵۳

[17] شېخ، پروېز، نیمګړي ارمانونه (ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مئ ۲۰۱۴، ص ۱۴

[18] شېخ، پروېز، روپۍ د روح پۍ (ناول), اعراف پرنټرز محله جنګي، پېښور، ۲۰۱۱, ص ۱۹۹

[19] شېخ، پروېز، منزل ته مزلونه (د پښتو ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جنوري ۲۰۱۴، مخ ۲۲۱

[20] شېخ، پروېز، شیر دل پټهان(ناول)، اعراف پرنټرز محله جنګي پیښور، اپریل ۲۰۱۸، ص ۱۵۳